کاندیداکادمیسن : ظاهر افق ۲۰۰۸/۱۲/۱۵م

# اوباما ته پیغام

(اوباما) دامریکانوی ټاکل شوی جمهور رییس باید تر هر څه لومړی « په سوله کی ګډ ژوند » اصل ته په احترام وګوری (اوباما) چی په کینیا(افریقا) کی دیوې مسلمانی کورنۍ افتخار لری ، دادی دسناتورۍ له مقامه څخه دجمهوری ریاست دټاکنوله لاری دامریکالومړنی تور پوسته جمهور رییس وټاکل شو. اوبا ما دامریکا دټول اړخیز چا پیر یال یو داسی اوسیدونکی دی چی دهغه امپریالیزم خصوصیاتو، دژوند طرز، داساسی قانون متا بعت او ټولنیز ـ اقتصادی شرایطويي پوره تا ثیر پر کړی او یو بشپړ امریکايي شخصیت يي ځینی جوړ کړی دی ۰

دده په بریالیتوب سره داسی هنګامی خپری شوې چی لاتر اوسه پوری يي دعمل کوم اثر هم نه ښکاری ۰ که څه هم په عمل کی يي څه نه دی څرګند شوی ، خو څومره چی ښکاری ، هغه داچی (اوباما) دتورپوستی په حیث نه یوازی دامریکا يي تورپوستونظر جلب کړی بلکه دتوری افریقا دملتونو هم دمرستوډیره طمعه ورته موجوده کیدای شي ۰ پر همدې اساس دبوش داتوکلنو وحشتونو او ظلمونو او په عامه توګه دسپین پوستو له خوا تور پوستوته تکلیفونواونفر تونوهم د اوباما راتګ دامید ونومرکز وګانه ۰ دهمدغو پراخو هنګامو په دننه کی هر ځپلی قوم او ملت د امریکا يي محرومو ولسونو په شمول هیله من شول چی ددوی مادی او معنوی ګټی به ، په ډول د ډولونو، نوموړی جمهور ور تامین کړي ۰

خو په تاسف چی نوموړی امید ونه ځکه پر ځای نه ښکاری چی (اوباما) سرتر پا یه (لکه مخکی چی هم وویل شول ) دیوه ستر امپریالستی هیواد په دننه کی دخپل قانون، کلتور او ټولو مادی او معنوی شرایطومحصول دی چی له حدودڅخه يي په ډیر زحمت وتلای شی ۰

دنوموړو شرایطو په ځنځیر تړلی (اوباما) نه دقهرمانو افغانانو پر حال درحم مهر وهلای شی او نه هم دامریکا يي انحصاراتو هغه ګټی له نظره غورځولای شی کوم چی دتیلو، ګازونو او نورو طبیعی ثروتونو د تصاحب په خاطر ملتونه او هیواد ونه خرابوی او د وحشتونو سره يي په غیر ورولی ۰

داهم څرګند ه ده چی د اوباما راتګ دامریکا تر پخوانیو رهبرانو زیات استقبال شوی او دنړۍ دیو لړ هیوادو نورهبرانو هم هر یوه دخپلو ګټو په رڼا کی ښه راغلی ویلی دی ۰

اوس چی نړۍ د ډیر ستر نړیوال مالی او اقتصادی سیاسی بحران سره لاس په ګریوان ده نه یوازی دلوړ و او وحشتونو په درشل کی ده بلکه د دریم نړیوالی جګړی نژدې امکانات يي هم داحساس څخه لیری نه دی ۰ نو تر هر څه لومړی باید( اوباما) وپوهیږی چی دنوموړو ناخوالو او وحشتونو علتونه نه یوازی د امپریالیستی پانګوالۍ په متن کی استقرارلری ، بلکه په خاصه توګه دبوش تجاوز ګرانه پالیسۍ هم په بشپړه توګه نوموړی بحران نورهم پراخ او شدید کړی دی ۰

اوس که اوباما وغواړی خپلی ټولنی او نړیوالو ولسونو ته دسولی او ارامۍ پیغامونه ورلندی کړی ، چی واقعأ ورته لازم هم دی ، نو لومړی باید دتروریزم هغه کلمه په واقعی توګه توضیح او تشریح کړی ، کومه چی بوش په درواغو اوانحرافی توګه دمحکومو ملتونو دخطا ایستلو له پاره دجنګ دایجاد په خاطر وړاندی ده ۰ هغه ملتونه او ولسونه چی دخپلو ملی ګټو له پاره جنګیږی دبوش په عقیده تروریست بلل کیږی ۰ په داسی حال کی چی دنړی آزادی بخښونکی او ملی جنبشونه چی دظلم او تجاوز په مقابل کی مبارزه کوی ، دنړیوال پرمختګ او انکشاف یوه ډیره مهمه برخه يي جوړه کړې ده ۰

ـ پر همدغه اساس ، په کار ده چی ډیره ژراو چټکۍ سره جمهور اوباما خپله خارجی پالیسی د( سوله ئیزګډژوند) تر شعار لاندی داسی را ژوندۍ کړی چی دنړۍ بیل بیل رژیمونه اوملتونه په هر عقیده او هر شکل چی وی باید خپل آزادا نه ژوند ته ادامه ورکړی او په عمل کی وښودل شی چی هیڅ یو قدرت او دولت حق نه لری دبل قوم اوملت پر ضد تجاوز وکړی او حتی په بي احترامۍ ورته وګوري ۰ څو دنوموړی اصل( سوله ئیز ګډ ژوند) دتامین په وخت کی هر ملت دخپلو جوړونکو فعالیتونو په نتیجه کی دپرمختګ او تکامل ګامونه پورته او دخپلو آزادیو او خپلواکیو څراغونه يي تل روښانه وی ۰که داسی نه وی، نو بیله شکه، به ملتونه دخپلو آزادیودساتلو په خاطر دهر ډول (فرعونی) اومستبدو قوتونو په مقابل کی مبارزه کوی او خپل ځانونه به دغلامۍ دځنځیر ونوڅخه خلاصوی ۰ لکه همدغه نوموړې پروسه چی اوس هم په پوره زور روا نه ده ۰

دنوموړی زرین اصل دسپکاوی پر اساس ، باید اوباما وګوری چی بوش نه تنهاددپولند او چک په دروازوکی دروسیې دمحاصرې کولو په خاطر خپل راکټونه نصب کړی دی ، بلکه دجورجیا او اوکراین دتحریک په خاطر يي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

هم ځینی نړیوالی برخی دبحران خولی ته دریدلی دی . البته ، دغه عمل هم په خپل نوبت المان او فرانسي غوندی
ستر هیوادونه اندیښمن کړی او نه يي یوازی داروپا دسولی له پاره سخت ګواښ بللی بلکه دنړیوالو له پاره هم یو ستر
بحران تلقی شوی دی . ډیره په زړه پوری لاداده چی بوش په شرقی اروپا کی دامریکا يي راکټونو نصبول دایران په
مقابل کی یو چتر ګڼی . (ده کجا درختها کجا )؟ دبوش پر نوموړی غولونکی تبلیغ بیا هم نه یوازی فرانسه او المان په
شک ګوری بلکه دنړی ټو ل با شعوره سیاسی ولسونه هم رشخند په وهی .
موږ ولیدل چی دنوموړو اعمالو په نتیجه کی دوینز ویلا هیواد دروسي دنظامی مهماتو څخه ددفاع او بالمثله عمل په
څیر ، ورځ په ورځ ، نورهم ډکیږی او دکیو با پر څنګ توانايي پیدا کوی .
ـ بله ډیره مهمه او اساسی خبره چی د اوباما دخارجی سیاست دبریالیتوب له پاره مرسته کولای شی دناټوپر تجاوز
ګر ترون باندی تکیه نه کول دی .
حتی ددی جنا یتکار جنګی ماشین یاترون دکمزوره کیدو او انحلال له پاره به د اوباما حیثیت دومره زیات شی لکه په
عراق کی چی دیوه عراقی ژورنالست دهغه بوټ قیمت لس میلیونه ډالروته ورسید په کوم ، چی يي بوش وویشتئ .
مستر بوش دهمدغه ناټو په مرسته دنړۍ څخه یو ستر ځنګل جوړ کړی او خپل توان يي دهغه ځنګله قانون بللی دی ،
نو څه ظلم او وحشت چی غواړی ، هغه کوی . خوبر عکس، نن ورځ اوباما او دده متشکل ګروپ باید په دی
وپوهیږی ، چی نوموړی دځنګله قانون دولسونو دبیداری او هوښیاری په نتیجه کی اضافه دوام نه شي کولای .
داهم ځکه چی نوموړی قانون په تیرو بدو ی دورانونوکی چی جهالتونو تسلط درلود ، بازار لاره . خواوس يي ورځ
په ورځ مارکیټ له کاره وزی .
داهم ځکه چی نن ورځ بشر یت دخپل تکامل نو یو علمی او تکنا لو جیکو بړا ونوته رسید لی اورسیږ ی . ما نا دا
چی نن دتفاهم ا و(سوله ئیزا ګډ ژوند زما نه ده .)
ــ شک نشته چی داوباما راتګ سره توره افریقا چی داستعماری اوامپر یالستی قدرتونو په واسطه پیړۍ پیړۍ ځپل
شوی او ځټل سوی اولا اوس هم ځپل کیږی ، ښايي زیاته مینه ددې له پاره څرګند کړی چی نړۍ په عامه توګه او
داوباما دولت په خاصه توګه دافر یقا يي ملتونو دبیچاره ګیو ، لوږ و او خواریو ، دایډ ز ، ملاریا او داسی نورو
وژونکو ناروغیو پر ضد نه پخلا کیدونکی مبارزه وکړی .
که چیری په دغه انسانی لاره کی دامریکا نوی تور پوستی جمهورئیس متین ګامونه پورته نه کړی ، نو څرګند ده
چی دخپلو نیکه ګانو او تور پوستو قضاوت به يي داوی چی اوباما به یوازی اویوازی دهغوامریکايي بیلیونرانو او
پانګه والو له پاره نوکرپاته شی کوم چی رامنځ ته کړی اومصرفونه يي په کړی دی . رښتیا هم ، که اوباما دخارجی
سوله ئیز ی پالیسی په لوری ګامونه پورته نه کړی ، نه چندانی مؤثر( تغیر) راوړې شی او نه هم دمنځنی طبقی له
پاره هغه اجراات وکړای شی کوم چی دده په ذهن کی ورګرځی . بلکه دبوش په شان به يي دخپلو محافظه کار
وبیلیونرانو په ګټه دنړۍ اقتصاد ی او سیاسی بحرانونه نور هم داسی ژور شی چی ددې واری به يي په افغانستان کی
دښځوپه موچنو وولی .
اوباما دخپلی انتخاباتی مبارزې په جریان کی دیولړ شعارو نوپر ځنک دتغیریو داسی مبهم شعار وړاندی کړ چی
څوک نه پوهیږی، دنوموړی شعاره څخه به لا مقصد څه وی ؟ په څه شی تغیر ؟ او څنګه تغیر ؟ البته، په جنګونوکی
شدت، پر ملتونو باندی حملې زیاتول ، ولسونه دخاوروسره برابرول ، افغانستان ته ۲۰ زره امریکايي عسکر لیږل او
پاکستان ته دهغه هیواد دخلکو دارادی خلاف وراوښتل (چی دادواړه شعارونه هم داوباما مادی) اوداسی نور
تجاوزکارانه اعمال ټول تغیرات بلل کیږی ، چی بیله شکه به دنړیوالوله پاره دبوش دپالیۍ هغه ادامه دی چی نوی
پالش يي خوړلی وی ....
دنوموړی خبری په ارتباط وګوری چی اوباما هم په خپله کا بینه کی مهم ترین وزیرد دفاع وزیر( ګیت) دبوش ډیر
باوری ملګری، پر خپل هغه مقام بیا مقررکړ چی دافغانی ولسونو په وینو يي هر څه سره دی . په همدی توګه
وګوریئ ، دمنځنی ختیځ دشخړی اوقهرمان فلستنی ملت دحقوقو تامین به څنګه منځ ته راشی چی هیلری کلنیتن ــ دا
داسرائیلو شاکره ــ دامریکا دخارجه چارو وزیر ه وی .
خوبرعکس، که چیری د اوباما دتغییر څخه مقصد داوی چی جنګونه لږ کړی ! دناټوجنګی اووحشی ماشین بیلزومه
ونه څرخوی، په واقعی توګه په سوله کی ګـډ ژوند وغواړی ، د وسلوجوړولو درقابت پر ځای اقتصادی رقابت ته په
درنه سترګه وګوری، دخپلو اقتصاد ی مرګبار ه بحرانونواو کار ګرانو دبیکار یو مخنیوی وکړی ، آزادی بخښونکو
جنبشونوته په احترام وګوری، دتوری افریقا خاصو مشکلاتو ته په غور نظر واچوی او داسی نور انسانی عملونه چی
دبشریت خلاصون او سر لوړی دی پر مخ بوزی نوکیدای شی چی نوموړی اعمال دناټويي قوتونو په دننه کی یو
داسی کیفی او کمی تغیر راولی څونړیواله سوله په نیک مرغیئ سره تامین او دتغیر اصلی مفهوم به افاده شی .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ښاغلی اوباما ! اوس هم ناوخته نه دی ۰ داروپا حالت او راتونکی سیاسی او نظامی بحران ته په غورو ګوره ، دمنځنی ختیځ دنیمی پیړۍ څخه زیات کړ کیچ او قهرمانو فلستینیانوحقوق په نوی او بشری نظر ووینه او همدا سی دقهرمانو افغانانو پر خاوره او وطن ظلمونه او وحشتونه بس کړی چی هغوی خپله خاوره ناموس بولی ۰
پریږده چی افغانان په خپله آزاده خاوره کی دنړیوالوپه ګډو مرستو هوسا ژوند وکړی او پر مختګونه يي په نصیب شی ۰ البته ، دانو هم هغه وخت دی چی په نړۍ کی د( سوله ئیز ګډ ژوند) اصل بر قرار ه شوی وی ۰

په درناوی


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de